ډاکتر رحمت ربی ځیرک یار ۲۰۱۸/۱۱/۰۵

# پـلورالـیزم + سیـکولـریزم = د اســلام پــرمـخــتیــا
# د دسـتـورالـمـدیـنـي په رنـا کې
(شـپـږمـه بـرخـه)

سیکولر(دنیوي) دولت د اسلام په ډکون کې:
اسلام هسک ښېتن ته د تسلیمـېدلو معنا لري، او یو دین دی چي محّمد(ص) یې بنسټ ایـېښودونکی و. د دغه دین منونکي سربېره په خپل دین، د یـهودانو اوعیسویانو په خدای هـم عـقیده لري او د سپېڅلي قرآن سپارښتي تعقیبوي. د اسلام ځیني چار پوهـان داسي اټکلوي چي که اسلام رسمي- دولتي دین وي یعني په دولت کي رسمي دین وي، نو امکان لري چي نور دینونه یا عقیـدې ونه زغمي؟
که په یو هیواد کي دین د نورو دینونو سره سوله یزه هـمزیستي ولـري، دینوالان کولی شي چي خپلي ښـېګڼـې یا بدګڼـې د نورو دینونو د ښـېګڼواو بدګڼـو سره پرتله کړي، له دې لارې زده کـړه وکړي او د بلې عقیدې په بنو اړخونو لړترلږه فـکر وکړي یایې ومني او له تنګ نظری نه ځانونه څنډې ته کړي. هسک ښېتن دې اسلامي دولتونو ته دومره زغم ورکړي لکه چي اوښ ته یې د خورا تـودو شـګو په دښته کي ورکړی دی!
ځینو مسلمانانو ته سیکولـریزم «جاهلـي تمدن» برېـښي. خو د پـوهندوی ډاکـتـر مقـتـدارخان د وینا له مخې سیکولریـزم «یو لوښی دی چي دیـن د سیاست له فساد نه ساتي او سیاست له دې نه ساتي چي د دین له خوا غصب شي.» ولولئ

Dr. Muqtedar Khan, ”The Myth of Secularism”(ijtihad.org: January 1, 2004.) [19 August 2016]

د ۱۸۹۳ په سپتمبر کي د امریکي په شیکاګو ښار کي «د نړۍ د دینونوپارلمان»*
*) World’s Parliament of Religions
رامینځته شو. دا د لویدیز او ختیز د معنوي عنعنو د استازو لومړۍ غونډه وه. هـیـنـدو راهب د ۵۰۰۰ استازو غونډه په «خویندو او ورونو» پرانیستله. مسلمان وینـاوال [جیننجی جمشیـدجي مُدی؟] هم په غونډه کي ګډون لاره. ۱۹ مېرمنو هـم ویناوې واورولې، او په دې ډول بین العقـیده نـړیوال خوځښت په پښو ودرېـد.

د دوهمي نـړیوالي جګړې په مهال چي جرمن الوتکو په لـنـدن بمونه وغورځول، د مسلمانانو او یـهودانو په عبادت ځایونو کي بین العقیده غونـډې وشوې. په دغه ډول ګـډوعبادتـونوکي دې د پیـغامبرانو په ځای د ګـډ خدای (ګاډ) په نوم یا د ګډ بشریت په نوم دعا یا شعر واورول شي. ځومـره به ښـه وای که په اسلامي کانفرانس کي د واتیکان (د پاپ د رسمي مقـر) یـو استازي برخه لرلای، او بلمقابل د اسلامي کنفرانس یو استازی په واتیکان کي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ



World's Parliament of Religions: Chicago (Sept.11-16,1893)

په ځوعقیده/ځودینه هېوادونو کې دې د پوهاوي راپوهاوي لپاره، د بېلګې په ډول د دینونو یا مذهبونو مرکز/کور، د بین العقیده بحث جرګه، بین العقیده دعا/عبادت، د کینې او بدګمانۍ په ضد دُعا،... او د ګډو ارزښتونو دُعا رامینځته شي. شهید شوي امریکائي عیسوي مولوي، فعالیتګراو د مدني حقوقو د خوځښت مشر ډاکترمارتین لوترکینګ(۱۹۲۹تر۱۹۶۸ز) ویلي وو چې:«نفرت نفرت نشي لرې کولی، یواځې مینه یې لرې کولی شي.» امریکایي سندرغاړی او سندرې لیکونکی جیمي هېندریکس(۱۹۴۲تر۱۹۷۰ز) ویلي وو: «کله چې د مینې قدرت د قدرت په مینه برلاسی شي، نړۍ به په سوله وپوهېږي.» دینوالان باید د یو بل دینونو ته د درناوي تومنه ولري.

که له یوې خوا دین په سیاست کې لامبو وهي، نو له بلې خوا سیاست هم دین ته د سیاسي کېدلو لامبو ورښيي. امریکایي عیسوي سیاستوالان عموماً د اسرائیلو کلک ملاتړ کوي. خو دغه ملاتړه سیاسي پرتوګ وراغوندي: په منځنۍ ختیز کې اسرائیل یواځینی هېواد دی چې دموکراسي لري. په اسلامي نړۍ کې داسي جمهوریتونه دي چې پادشاهۍ ته ورته دي. په اسلامي نړۍ کې هم ډېر سیاستوالان د خپل مادي مضمون لپاره اسلام کاروي.

د سپېڅلي قرآن د دوهم فصل(سورت البقره) په ۲۵۶ آیت کې راغلي دي چې: «لا اکراه فی الدین»( د دین په منلو کې په چا زور نشته.) په اسلام کې د نورو دینونو د عبادتځایونو امنیت خوندي شوی دی. په سوره ۵:ایت۴۸ کې راغلي دي چې: که الله غوښتلی ستاسي ټــه به یې (په یو دین کې متحد) ملت جوړکړی وای، خو غوښتل یې چې تاسي وازمايي. د سپېڅلي قرآن په دوه آیتونو کې عین موضوع تکرار شوې ده: دوهمه سوره: ۶۲آیه؛ پینځمه سوره:۶۹ آیه

ودې شي چې د سوره ۲ (البقره)ایه ۶۲ د سوره ۳(العمران) آیه ۸۵ سره پُخلا شي:

سوره ۲ ایه ۶۲: «هغه چاچې په الله او د قیمت په ورځ ایمان... راوړی وي او ښه عملونه یې کړي وي، خپل اجر(جایزه) به له خپل څښتن(رب) نه واخلي، هغوی به نه وېره ولري او نه غمجنتیا.»

سوره ۳ ایه ۸۵: ومن یبتغ غیر الاسلم دینا فلن یُقبل منهُ وهُوَ فی الاخره من الخسرین «څوک چې د اسلام په ځای بل دین غواړي هېڅکله به یې (الله)ونه مني او په اخرت کې به د بایلونکو په ډله کې وي.» دا آیت په سپېڅلي قرآن کې د دوه ایتونو سره په ټکر کې دی چې عین متن لري: سوره دوه(۲) ایه ۶۲؛ او سوره پینځه(۵) آیه ۶۹. دا به څنګه ممکنه وي چې د سپېڅلي قرآن یو آیت دوه پاس ذکرشوي سپېڅلي آیتونه لغوه کړي؟! د سپېڅلي قرآن د دریمي سوره(العمران) په ۱۰۴ آیه کې بنایي سیاسي ګوند/ټلوالي ته ګوته نیول شوې وي: ولتکن منکم امه یدعون الی الخیر ویأمرون بلمعروف وینهون عنِ المنکر واولءک هُمُ






افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

الـمفلحُـون. (ستاسې له مينځه به يو ملت راځګ شي چې خلک خير ته رابلي، د ښوکارونو امرکوي او د بـدو کارونو مخه نيسي، او هغوی به بريالي وي). ښايي په دغه ايــه کې به سـيـاسي ګونـد/ټـلوالې ته ګوته نيول شوې وي. ولولئ:د ډاکتر مقـتـدارخان ليکنه

سيکولريزم د پرمختګ لپاره ګټوردی او د دې تومنه لري چې د ديني تنوع لپاره د همکارۍ چوکاټ رامينـځته کړي-خاصتاَ په هغه حالت کې چې د ټولنې وګړي په عـقيدوي او قـومي لحاظ متجانس نه وي. په سيکولريزم کې د لږکيانو اوډېرکيانو حقوقي ټکرکم وي.

که په لويديز کې انګريز جورج جيکوب هـوليوک په ۱۸۵۱م کې د پخـواني لفظ «ملحد/اتيست» پـه ځای «سيکــولــريزم» تعريف کړ، په ۱۲زيېزه پـېـړۍ کې مسلمان مفکر ابــن رشـد (۱۱۲۶تر۱۱۹۸) د حقيقت د ميندلو لپاره په فلسفه او دين راچاپېرشو. ابن رشد د دين اوفلسفې تر مينځ هغه بدبيني ړنګه کړه چې غزالي (۱۰۵۸تر ۱۱۱۱م ) له ده نه وړاندې راولاړه کړې وه. د ابن رشد له ليکنو نه يهـودي او عـيسوي منورينو الهام واخيست. جرمن عيسوي مولوي مارتين لوتر(۱۴۸۳تر ۱۵۴۶ز) لومړی اروپايي و چې کليسا يې له دولت نه بېله کړه: کليسا (د خـدای پاچاهــي) بـايــد له دنـيوي (خاورينې) واکمنۍ نه بېله شي. «فلسفه ی عرب به گونه ای که در ابن رشـد و پيشينيان شرقی وی متجلی گشته، فلسفه ای بود که به نيازهای نيروهای مترقی در جوامع ,,الـهـی,, پاسخ ميداد، جوامعی که به طور کيفی با جامعه ی عتيق فاصله ی زيادی داشت.»(آرتو و. ساگاديف، «ابن رشد و سنت فلسفی»،انجمن کليميان تهران). آذر ۸۸

Iranjewish.com [15 Augus 2017]

اته دېرش نيم کالونه وړانـدې د ۱۹۷۹ د فبروری په ۱۱نېټه (۱۳۵۷لمريز) په ايـران کې اسلامي انقلاب شاهي نظام رانسکورکړاوځای يې د امام خميني په مشرۍ د ايران اسلامی جمهوري نـظام ونيو. د سيکـولر(دنيوي) نظام د بحث لپاره، ما ته د ايران ديني جمهوري نظام ګټور برېـښي.

په ايران کې لوځ ژبی سيکولريست ډاکتراسماعيل نوری علاء نومېړي چې د پوهنتون استاد او ليکوال و اوس لکه چې په امريکا کې استوګن وي. دوه پخـواني پټ(مستعار) نومونه يــې دا دي: «مـاهـيار» او «ا. ن. پـيـام». الــمان غـږ(دوېـچې وېـلـې) ورسـره د ۲۰۰۹ د دسمبر په ۳۱ مرکه کړې وه چې لنډون يې لاندې وړاندې کوم:

Arqir.com (April 24, 2014)



تهـران: ۱۱فبروری ۱۹۷۹

اسماعيل نوري علاء: په ترکيه کې چې چا سلطنت کولو،خلافت يې هم کولو. يانې دواړه مقامونه يو شی وو. خو په فارس(اوسني ايران)کې د صفويانو له پـېـر راهيسې (لږترلږه په تېـرو ۳۰۰ کالونو کې) د سلطان او خليفه مقامونه خپل پخپله بېل شوي وو. د ايران په مشروطيت پېرکې[۱۹۰۵تر۱۹۱۱] پاچا هم د روحانيت سره په مبارزه کې اخته و. له ۱۹۷۹م راهـيسې په ايران کې د ديني ډلې واکمـنې چلېږي. تــرڅو چې حکومت سيکــولر[دنيـوي] نشي، نه به د بشر حقوق چلېـږي، او نه به ولسواکي.

پوښتنه:که حکومت وواېي چې اوس موقع مناسبه نه ده؟ جواب: دغه بهانه له ۱۳۵۷ل[۱۹۷۹ز] راهيسې چلېـږي. د جمهوري اسلامي پر ځای، «جمهــوری ايراني»ويل هم مجاز نه دی، ځکه چې اخـتلافـات راپورته کېـږي. دا سالم کار نه دی چې دا جمهوری اسلامي لاړشي او بل جمهوری اسلامی راشي او زموږ ټول ملي ثروتونه ضايع شي. جمهوري اسلامي يـواځې د مسلمانانــو جمهوريت دی. خو جمهوری ايرانی د هر ايــراني جمهوريت دی (جمهوری کمونيست،جمهوری بهايی، جمهوری کارګر). خوکله چې سيکولر(دنيوي) جمهوريت راشي، بيا به



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

«انوقت دیگر ما ,,جمهوری ایرانی,, نخواهیم داشت، بلکی ,,جمهوری ایران,, را خواهیم داشت.» یعنی «مالکیت حکومت را به ما ایرانیان برگرداند و این درست آن هدفی است که هدف اندیشه سیکولارهم هست.... یعنی خارج کردن قدرت حکومتی از دست تک مذهب یا مکتب معین و دادن این قدرت به تمام مردم.»
Dw.com (31/12/2009) [16 August 2017]

داسي برېښني چي د ایران جمهور رئیس سید محمد خاتمی په خپل هېواد کي د سیکولر مفکورې لپاره نوکي کار کړی و، بې له دي چي د سیکولَر ادعا یې کړې وي.
خبرگزاری فارس ۱۰میزان ۱۳۹۲

Farsnews.com [16 August 2017]

سید یاسر جبرائیلی د سید محمد خاتمی د سیکولریزم په اړه:
آقای خاتمی! سلام علیکم
«متوجه هستید که مطبوعات باید همیشه در خدمت اسلام عزیز و مردم و کشور باشند،؛ و آزادی ها در حدود قوانین مقدس اسلام و قانون اساسی به بهترین وجه تامین شود». دقت می فرمائید که امام(ره) صریحا از «آزادی در حدود اسلام»سخن می گویند. اما جنابعالی بعد ها از تقابل دین و آزادی سخن گفته و تصریح کرده اید که «اگر دین در برابر آزادی قرار گیرد، این دین است که باید محدود شود نه آزادی». صاحب این تفکر متضاد، چه نسبتی می تواند با امام خمینی(ره) داشته باشد؟
«در زندگی قومی که عزم تعالی و پویایی کرده است هیچ تحول کارسازی پدید نخواهد آمد مگر آنکه از متن تمدن غرب بگذرد... سخن کسانی که می گویند ابتدا باید خرد غربی را پذیرفت تا توسعه بیاید سخن بیراهی نیست و این سخن را کامل کنم که علاوه بر خرد و بینش غرب باید منش غربی متناسب با این بینش را نیز پذیرفت».
جنابعالی در حاشیه پنجاه و سومین مجمع عمومی سازمان ملل در نیویورک فتوای امام(ره) درباره اعدام سلمان رشدی را مسئله ای فقهی و پایان یافته اعلام کردید. فکر نمی کنید که منظور امام در سال 1367 «دقیقاً» شما بوده اید؟ سوالمان تکراری است: نسبت شما با امام راحل چیست؟
شما در اواخر دوره ریاست جمهوری‌تان، جزوه ای به نام «نامه ای برای فردا» نوشته و منتشر کردید. در آنجا «مشروعیت» همه قدرت ها را مستقیم و غیر مستقیم برآمده از «مردم» خواندید و از اینکه رویکردهای سکولاریستی جریان متبوعتان در ایران به نام دین ستیزی مورد مخالفت قرار می گرفت، اینگونه با متهم کردن مخالفان به استبداد گله کردید: «استبداد زدگی درد مزمن و مشترک جامعه ماست... متاسفانه حتی مفاهیم غربی هم، وقتی به یک فضای استبدادزده پای می نهد، تحریف هم می شوند و این که در این مسیر سکولاریسم مبدل به دین ستیزی می شود، از این قاعده برکنار نیست».
به نظر شما ریشه این همه تباین نظری میان افکار شما و اندیشه های امام(ره) در کجاست؟ امام راحل پدر بزرگوارتان را «یکی از پر فروغ ترین چهره های تقوا و خلوص و ایمان» می دانند. نقلی مشهور از پدرتان هست که درباره وزیر فرهنگ شدن شما در دوران نخست وزیری آقای میر حسین موسوی اظهار نگرانی کرده و فرموده اند «خطرناک است، پسر من دعوای ما با شما ناشی از اختلاف سلیقه در حکومت داری و رویدادهای کوچک و بزرگ اطرافمان نیست. بحث ما بر سر نوع نگاه شما به اسلام است که با نگاه امام خمینی(ره) و در نتیجه مبانی جمهوری اسلامی تضادهای آشکار دارد که در شکل های گوناگون از جمله فتنه خود را نشان داده است.غربزده است».

نقل شده است که وقتی درباره رفتن به آلمان با شهید مطهری مشورت کرده اید ایشان مخالفت کرده‌اند و چه بسا که استاد از تاثیرپذیری شما از فرهنگ و اندیشه غربی نگران بوده اند. چرا شهید مطهری «نگران» این تاثیر پذیری بودند؟ آیا این اختلافات مبنایی شما با اندیشه امام راحل نشان از آن دارد که نگرانی شهید مطهری به جا بوده است؟

نویسنده کتاب: سید یاسر جبرائیلی، سودای سکولاریسم(رمز کشایي ازندگی و کارنامه سید محمد خاتمی).خبرگزاری فارس، ۱۳۹۶المریز/۲۰۱۷زیز
اکبر گنجي ایراني ژورنالیست، لیکوال او د دولت کلک سیاسي مخالف دی. د امریکې په «هفینگتن پوسټ» کي یې د لیکني انګریزي ژباړه خپره شوې ده.
القاعده، النصر جهه، بوکوحرم او ایزیس باید د دی ټیکه والان نشي چي د اسلام له سپېڅلي کتاب(قرآن مجید) نه د خپلي جګړې توغ جوړکړي اواسلام د مېنځنیو پېړیو سمڅو ته راټیټ کړي.
اسلام د اسلامستانیانو له شر نه ازادول یوه لار لري،او هغه دا چي سیکولراسلام(دُنیوي اسلام/خاورین اسلام) په خاورینه نړی کي رامېنځته شي. سیکولریزم دا مانا هم لري چي دین دي شخصي قلمرو ته وسپارل شي. ځینې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

نامتو ټولنپوهان په دې آند دي چې دين دی د ټولنې(ولس) په قلمرو کې شتون ولري، خو په عامه قلمرو کې هره ادعا دې د استدلال او عقل په ستنو ولاړه وي - نه د دين او سپېڅلو اشخاصو په مفکورو.
اسلام د عدالت او ظلم په اړه کلک دريځ لـري، خو د «اسلامي دولت» لپاره کومه نسخه نـلري. دليل يې دادی چې دغه موضوع «وشاورهم فی الامر» [العمران:۱۵۹] او «امرهم شوری بينهم[ الشوری:۳۸] (په دنيوي چارو کې ګډې مشورې او مجموعي تعقل) ته سپارل شوې ده.[ د زياتو معلوماتو لپاره ولولئ: رحمت ربی زيرکيار، سياسي فکرونه او سياسي نظامونه په لويديزه او اسلامي نړۍ کې. پېښور/احمدی پرينټينګ ۲۰۰۵ز]. د دغو قرآنی آيتونو په مټ اکبر ګنجي کاږي چې د اسلام او سيکولريزم په مينځ کې توافق مجاز اوموجه دی. اسلام په يوه وچه دښته(عرب شبهه جزيره) کې په ۷ زيزه پېړۍ کې نازل شو، ژوند کوچيانۍ او قبيلوي و،او د حکومت او دولت مسودې چا نه پېژندلې. قدرت او نفوذ په قبيلوي بنسټ ولاړ و. د کار( وظيفو)وېش اوتنظيم نه وو موجود. ژوند شډل او له وېرې ډک و. په اروپا کې هم د لسمې زيزې پېړۍ پورې کوم مرکزي،ملي دولت شتون نه لاره. د نوي دولت اوحکومت ښکارندې(پديدې) په اروپا کې په ۱۶ زيزې پېړۍ کې راپيدا شوې.
په اسلام کې داسې لارښودنې نشته چې څنګه دې اسلامي دولت جوړشي! قانون(شريعت) د «امـه» لپاره و، نه د ټولنې لپاره، ځکه چې ټولنه(سوسايټي) نه وه رامينځته شوې، بلکې جمعيت(ټولګی) موجود و. په سپـېڅلي قرآن کې نه دي راغلي چې د حضرت پيغامبرله مړيني وروسته دې څه ډول دولت جوړشي. خو که په سپېڅلي قرآن کې ورته کومه اشاره شوې وي، نو بيا به هم ډېرو بډېرو(تبصرو) ته اړتيا ولري؟ په سپېڅلي قرآن کې هم د محمد(ص)له مړيني وروسته د کوم ناستن(خليفه،امام) سپارښتنه نه وه شوې. ښايي هغه به د واکمنی (حکومت)د شکل او متن موضوع پخپله «امـه» ته پرېښـې وي، ځکه د ولس ژونـد د زماني په تېرېـدلو سره توپيرلـري.
[برتانوي فيلسوف انتروپالوجيست ارنيست ګيلنر،د عبدالرحمن ابن خلدون(۱۳۳۲تر۱۴۰۶ز) له خوا د حکومت تعريف په سياسي نظريه کې ترټولو غوره ګڼي: حکومت «يوه موسسه ده چې د بې عدالتی مخه نيسي، خو دا چې پخپله يې مرتکب کېږي.»]:
Government “is an institution which prevents injustice other than such as it commits itself.”-Abdul Rahman ibn Khaldun
ابن خلدون په خپل مشهور کتاب(مقدمه، ۲۵فصل) کې ليکلي دي چې: دين د نړۍ «د نورو چارو[غيردنيوي چارو]» ناظر دی، «په داسې حال کې چې سياسي قوانين د دې نړۍ د مصالحو غم خوري.» دلته وينو چې ديني دريځ او دنيوي سياست بېل شوي دي. يانې ابن خلدون په اسلامي نړۍ کې لومړی سياسي او ټولنيز مفکر دی چې دنيـوي(غيرديني) سياست يې په ډاګه کړی دی. هغه ليکلي دي چې د انسانانو د مجموعي ژوند اداره په غير له دين او پيـغامبره ممـکنه ده. ابن خلدون د شيعه امامت ادعا د نيوکې لاندې نيسي چې امامت د اسلام غښ محوردی.
ابن خلدون زياتوي چې واکمني(حکومت) هغه «عامه مصلحت دی چې د ولس نظر ته سپارل شوی دی.» هغـه کاږي چې اسـلامي واکمني ځـای پــه ځـای نه ده پاتی شـوې: څلورخليفه ګانو په واکمنی کې ديـن ته پاملـرنه کوله. خو ورپسې اموي اوعباسي واکمنانو خـلافت ته د «مطلـقه واکمنی» امېل ورپه غاړه کړ. ځانونه يې چې ښه ماړه کړل، نـو بيايي په نړۍ کې په فتوحاتو پسې ملا وتړله. لا زيات قدرت اوغنايم يې لاسته راوړل او په شهوتو او مزو کې ډوب شول. يانې دغه سلطنتي نظامونه اسلامي نظامونه نـه وو. په بله وينا، ابن خلـدون دغه نظامونه د خپل وخت د پاچاهانو سره پر تله کړل. شيعه ګانو هـم خوارج، معـتزله او امويان فاسد، مرتد او غاصب ګـڼل.
په مراکش کې د اسلامي افکارو او فلسفي نامتو پوهاند محمد عبدالجبری(۱۹۳۶تر ۲۰۱۰) ليکي چې د څلورخليفه ګانو په ټاکلو کې قومي ګټو اغيزلاره، نه عقـيدې(که څه هم په اسلام کې په الله بانـدې عقيـدې، خو د قبيلويت ردولواهميت لاره). له دې امله نوموړی پوهاند خلافت ته د اسلامي واکمنی په سترګه نه کسـي. ولولئ
Akbar Ganji, “Why secularism is compatible with the Quran and Sunna - and an Islamic State is not,”(Huffington Post), no date [27-7-2017].
د ابن خلـدون اقتصادي نظريه هم پام وړده: د مولديت جګېدل د کارد ډېرکلک وېش نتيجه ده. «د خلکو په مينځ کې د شرايطو توپيرونه د هغو بېلابېلو طريقـو نتيجه ده چې خپل ژوند پرې تـامينوي.» ابــن خلدون د شـيانو د قـيمتونو په اړه دعرضي او تـقاضي په لوبه پوهېده. «عصبيه»(قبيلوي شعور/ټولنيزغبرګون) دولت رامينځـته کوي،خو پخپله يکې واکمنه قـبيله ورو پــه ورو له مينځه ځي، او ورپسې بله قوي عصبيه را پاڅېږي چې د دولت په مزو او نعمتونو کې د ډوبې شوې او منحل شوې عصبيې ځای ونيسي.
د مولديت جګېدل د کار د ډېر ارت وېش نتيجه ده. يو دولت/تمدن چې د ملکيت حقوق پکې کوټلي وي، غني تمدن يې په برخه کېږي؛ خوهغه دولت چې د ملکيت حقوق پکې ټکني وي، بې وزله به پاتې وي. هغه هېوادونه به په نزول اخته کېږي چې دولت يې په تجارت او توليـد کې مداخله کوي.ابن خلـدون د هېواد ستر پوځ ته د تجارت، توليد او اقتصادي اضافي ارزښت د خنډ په سترګه کتل. ادم سميت(۱۷۲۳تر ۱۷۹۰ز) په دې نظروچې غښ مارکېټ/بازارتخصص رامينځته کوي. خو ابن خلدون ويلي ووچې د نفوس زياتښت تخصص ته لار هـواروي. د دواړو پوهـانو فکرونه يوبل ته نږدې دي: د نفوس زياتښت غښ مارکېټ رامينځته کوي، او غښ مارکېټ تخصص.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولـئ

د ابن خلدون په اند، اسعار(د مبادلې وسیله) باید ذاتي ارزښت ولري، او وزن او د خلوص درجه ولري: سیلور(درهم) او طلا(دینار). ولولئ:



ابن خلدون په تونیس کې په دې جومات کې درس ویلی و

Dr. Selim Cafer Karatas*," The Econmic Theory of Ibn Khaldun and the Rise and Fall of Nations," Muslimheritage.com (April 2006)[August 23,2017]. *Born in Turkey (1947-2011)

په ترکیه کې زېږېدلی ډاکتر سیلیم کراتس(۱۹۴۷تر ۲۰۱۱)، په جده (سعودي عربستان) کې د اقتصادي پرمختګ د بانک اجرایي مشر و.

Bilgesam.org (15 June 2009) [24 August 2017]; en.wikipedia.org [24 August 2017].
Yves Lacoste, Ibn Khaldun, The Birth of History and the Past of the Third World. London: Verso, 1984.

ملک اشفــاق، د ابــن خلــدون ژوند، آند او فلسفه. ژباړن: زاهد خلیلي. مومند خپرندوی ټولنه،جلال اباد. ۱۳۹۲ل/۲۰۱۳ز.

ابن خلدون ویلي دي چې «د زده کړې پیل دې په مورنۍ ژبه وشي؛ ځکه په بله ژبه زده کړه د نیمایي زده کړې سره بــرابـره ده.»

zahidkhalili@yahoo.com momand.books@gmail.com

## قیامت کبری تیر سو:

ډاکترفاروق اعظم

Zhman.net 07/10/2017 [2 November 2017]

[مخکې له دې چې له الازهر پو هنتون نه د فارغ شوي ډاکتر فاروق اعظم لنډه، خو جدي لیکنه په لویدیزه نړۍ کې میشتو افغانانو ته معرفي کړم، روغه مې وګڼله چې یوه سریزه پرې وکاږم. ولې؟ ځکه چې د ۱۹۷۹زییز د دسمبر په ۲۵، په افغانستان باندې د پخواني شوروي اتحاد له یرغل راهیسې ۳۷ کالونه تېرشوي دي. ګڼ شمېر افغانان په لویدیزه نړۍ کې استوګن دي، او ځوان نسل یې ښایي په لړ و ډېره کچه د خپلو دیني او کلتوري معلوماتو نه بې برخې پاتې شوی وي؟ د ۶۱ سپوږمیز کال د محرم د میاشتې ۱۰ نېټه = د ۵۹ لمریز کال د تلې ۲۱نېټه = د ۶۸۰ میلادي کال د اکتوبر د ۱۳ نېټې سره سمون لري. د ۱۴۳۹سپوږمیز د محرم۱۰ نېټه= ۹ تله ۱۳۹۶لمریز =د ۲۰۱۷ د اکتوبر ۱ کېږي. «عاشورا» د «لسم» په معنا ده. دغې ورځې(عاشورې) په سیاسي او ټولنیز لحاظ د شیعه ګانو په ژوند کې رول لوبولې دی. محرم د قمري(سپوږمیزې) سنې لومړۍ میاشت ده، او شیعه ګان د دغې میاشت لسمه نېټه د اسلام د پیغامبر محّمد(ص) د کورنۍ په اړه ستره بخوله (فاجعه) ګڼي. حضرت حسین د اسلام د پیغامبر محّمد(ص)لمسی و او د سُنی مسلمانانو د آخري (څلورم)خلیفه او د شیعه مسلمانانو د لومړي امام(حضرت علي ابن ابی طالب) ځوی و. حضرت علي نه یوازې د اسلام د پیغامبر(ص) زوم و،بلکې د تره ځوی یې هم و. حضرت علي په ۶۶۱ زییز کال کې، د «خوارجو» ډلې ته د منسوب ابن مُلجام په لاس د اوسنـي عراق په کوفه کې شهید شو. په نړۍ کې د شیعه ګانو نفوس د ۱۴۰ملیون په شاوخوا کې اټکل شوی دی. غټه برخه یې په ایران، عراق او په پاتې نور منځني ختیز کې استوګنه ده. په افغانستان او پاکستان کې هم میشت دي. سنیان(د رواج خلک) میراثي دیني مشرتوب نه مني. شیعه د پلوي او پیرو معنا لري. شیعه ګانو ته د اسلام د پیغامبر د کورنۍ



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولـئ

پاتي شوني مهم وو او دي چي امامت وچلوي. د دوی په عقیده، ۱۲ شیعه امامان د الله(ج) او د خلکو په مینځ کي مینځګړتیا کولی شي. مسلمانان به څنګه د خپل پیغامبر، د هغه د یارانو او خپلوانو سرښندني هېرې کړي. امام حسین خپل سر یزید ته وړاندي کړ، خو لاس یې ورنکړ.
د سني او شیعه د داخلي جګړې په اړه، انګرېزي-امریکایي لیکوالي لیسلي هازیلټن په ۲۰۱۰زېږکي یو ۲۵۶مخیز کتاب خپور کړی دی. یو چا پرې په خپله بډېره (تبصره) کي داسې لیکلي دي: په کتاب کي داسې صحنې تمثیل شوې دي چي که په نړۍ کي نامتوایټالوي سیاستمدار نیکولو مکیاویلي(۱۴۴۹تر۱۵۲۷م) لوستلې وای، د هغه غوڼې به یې زیږ کړې وای. په یوه بله بډېره کي راغلي دي چي دغه کتاب د امریکي د ولسمشر جورج ډبلیو بوش(۲۰۰۱تر۲۰۰۹)، دهغه د دفاع وزیر دانلډ رمسفیلډ(۲۰۰۱تر ۲۰۰۶)، د دفاع وزارت معین پاول ولفوویتڅ(۲۰۰۱تر۲۰۰۵) او د دوی د یارانو د تنویرولو لپاره معجون و. زما څېرکیار په آند، زموږ عقیدې (که دیني وي یا غیر دیني)باید زموږ د انساني جوهرسره په توافق کي وي. مطلب مې دا دی چي موږ د یویشتمې پېړۍ انسانان باید د دې تومنه ولرو چي د خپلو احساساتي اختلافونو په ټکرکي د متقابل احترام ډک ژوند وکړای شو. په داسې حال کي چي عیسوي دین ۱۵۱۷ کالونه وروسته په دوه برخو(کاتولیک او پروټیسټنټ یعني اعتراضي) وویشل شو، د اسلام دین په تنکیوالي کي د پیغامبر محمّد(ص) له مړیني(۶۳۲م) نه ۲۹کالونه وروسته د سنیانو د وروستني (څلورم) خلیفه او د شیعګانو د لومړی امام حضرت علي په وژني سره په ۶۶۱م کي په دوه برخو(سني او شیعه) وویشل شو. ځیني شیعه ګان داسي فکر هم کوي چي که حضرت علي د محمّد(ص) له مړیني وروسته لومړی ناستن شوی وای، عرفان به په اسلامي عقیده کي مدغم شوی او همرنګ شوی وای. د اوومې زیږیزې پېړی د شیعه - سني حماسوي قیصي د کتاب سرلیک دی:
Lesley Hazleton, After the Prophet-The Epic Story of the Shia-Sunni Split. Anchor:2010 – ]
اوس به راوګرځم د ډاکتر فاروق اعظم لیکني ته. څېرکیار.
لوی قیامت چي د عاشوری یا د محرم الحرام لومړی لس ورځي وي، تیري سوی. کوچنی قیامت یا قیامة الصغری لا یوه میاشت نور روان دی. دا غم څلوېښت ورځي دی. عاشوری د کابل په هغو سیمو کی چي شیعه ګان لږ او ډیر اوسي قیامت دی. چي په یوه سمیه کی لس کوره شیعه وي، پاته نوي کورونه یی د دولتي واک او سپین سترګی په زور تر تاثیر لاندي راوستی او یرغمل کړي یی دي. لویي لاري او عام سړکان یی د خلکو د تګ او راتګ پرمخ بند کړیدي، پر عامو سړکانو یی توري دروازي جوړي کړي او لوډسپیکرو کی په لوړ آواز ۲۴ ساعته د ژړا، ځان وهلو او نوحي په نارو یی د خلکو غوږونه کاڼه کړي او په شاوخوا کورونو کی یی له ماشومانو، بوډاګانو، شاګردانو او ناروغانو راحت تښتولی دی. پخپلو لنډغرو حرکاتو سنیان تهدیدوي. سنیان له نزاکته څه نه ورته وایی خو دوی له دغه ښه وضعیت او تسامح څخه مسلسله ناوړه ګټه پورته کوي.
له بده مرغه حکومت دومره کمزور دی چي په لوی لاس یی د عاشورا په ورځو کی د کابل د امنیت د تأمین څخه خپل عجز اعلان کړ او هزاره شخصي ملیشو ته یی دولتي وسلي رسما توزیع کړی چي د کابل د ښار د ځینو برخو امنیت وساتي. دغو لنډغرو د امنیت په نوم لویی لاری بندی کړی، عام خلک یی سخت ازار کړل او د خپل قومي او مذهبی قوت د ښوولو په منظور یی په ډیر غرور او مافیایي شکل زورآزمایي وکړه. شیعه ګان دغه کار پر هیواد د امریکایانو د تسلط (۲۰۰۱م) راهیسی هرکال کوي. دولت خپل ځان پخپله د خلکو په نظر کي بی وسه، کمزور او سپک کړی دی اوهزاره ملیشو ته د وسلو په توزیع سره یی د مشروعیت هغه اصل خپله تر پښو لاندي کړیدی چي په هیواد کی دولت د قوی د استعمال یوازنی مرجع دی.
تاسي دغه فضیحت ته وګوری؛ جمهور رئیس د کابیني سره تکیه خانی ته روان وي او شیعه ګانو ته د امام حسین (رض) د شهادت فاتحه ورکوي. په داسی حال کی چي سنیان ډیر محبان علي او اهل بیت دي، خو رئیس جمهور هیڅ وخت په دغه ورځ د سنیانو یو جومات ته نه دی تللی. ولي؟ معنی داچي د امام حسین (رض) سره دده کومه رابطه نسته او دی انګیري چي امام (رض) د شیعه ګانو خپل وو او دی باید غمرازي ورسره وکړي. جمهور رئیس د دولت او ملت دواړو مشر دی؛ هغه د شریعت، قانون او عرف له مخي د هیواد د لوړترین مقام درلوونکی شخص دی. خو هغه په تکیه خانه کی داسي کوچنی، په تظاهر او اکټ کړه غاړه ناست وي چی دده د شان سره هیڅ مناسب نه وي؛ ته به وایي چي امام حسین (رض) دده د کورنی یو نژدی چا شهید کړیدی او دی یی اوس ورتې ته په عذر ورغلی دی. له ډیره خوشامنده حیران وي چي څومره ځان مخلص او هیجاني وښیي او څه ډول ادبیات استعمال کړي چي هغوی دده په اخلاص باور وکړي او عذر یی ومني. همدا سبب دی چي ګاهي امام حسین د خدای لمسی کړي او ګاهی رضی الله عنها ورته وایي. د ځان د ډیر نژدی کولو په منظور دا هم ورته وایی: «خلکو راته ویل چي مه ورځه، انتحاري حمله به وسي؛ خو زه دایم تاسی ته راغلم؛ ما ویل پروا نلري چي د امام حسین د محبانو سره یوځای شهید سم.» ؟؟؟؟ هغه بل مشر[حامد کرزی] خو په اکټ او تظاهر کی ډیر ماهر وو. په تورو جامو کی به د تکیه خاني په سر کی ناست وو. د مصنوعي ژړا سترګي به یی د تلویزون کامرو ته په مهارت نیولي وي. په ماشوم زوی به یی توري جامي اغوستي، شنه پټه چي «یاحسین» پر لیکلی وو، تر سر ورتړلي

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

وه؛ په غيږ کی به يې داسی کښينولی وو چی تا به ويل د کربلا د جنګ له سخت ميدانه يې تازه دغه يتيم ته نجات ورکړی دی.
د مشرانو دغه اکټونه او رياکاری د څه لپاره؟ په انتخاباتو کی د رايی لپاره؟ د تورو کڅوړو لالچيان دي؟ د شخصيت کمزوري ده؟ د دين څخه ناپوهي ده؟ د خپل ولس په نبض او کلتور نه پوهيږي؟ امريکايان ورته وايي؟ دا ولي؟ شيعه زموږ د هيواد يوه محترمه کتله ده او حق لري چی خپل مذهبي مراسم په امن او ډاډ سره ترسره کړي. خو دا دومره ډرامې د څه لپاره؟ دا دومره اخلاقي او کلتوري فساد ولي؟ راځی د ملي مصالحو د تأمين په منظور[حروف ځيرکيار پښه کړي دي] روان زهرجن سکوت مات او دغو سؤالونو ته جواب پيدا کړو چی راتلونکی کلونه دغه صغری او کبری قيامتونه په دومره شدت نه وي. [په] درناوي!

**نور بيا**

Dr. rer. pol. Rahmat Rabi Zirakyar, Califorina, USA
zirakyar1234@yahoo.com


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ